مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۶/۰۲/۲۸

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۶۳مه برخه

ما د کابل له سیند نه ځار کړي
د کابلی د خولي کنګال په کې راځينه

کابله لیې اوښکې توی کړه
لوی او واړه بچیان دې ورک له ملکه دينه

دنیا په هیچا نه ورانیږي
که مور جدا شو، نو په مور به ورانه‌شينه

ستا دراتلو زیری چې راغی
بلی ته پورته شوم سرتوره ګډیدمه

د لنډیو د دې برخې له‌پاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې‌دي:

باد د وطن له لورې راغی
په نورو تریخ، خو په ما خوږ ولګېدنه

برق یې د مخ له اسمان پاڅېد
اور یې زما د زړهٔ پر ښار ولګاونه

بیلتونه مخ دې چا ته مه شه
ما ته دې مخ شو، له سیالی دې وویستمه

په کومه لاړې، غږ دې ورک شو
لالیه تا خو د قیامت تړل شرطونه

په ډک‌محفل کې غاړه راکه
چې د رواج زولنې تولې ماتې شينه

پر مخ دې زخې راپیداشه
چې د ښایست غرور دې دړېوړې شينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولئ

په چا مي وس نهرسي ياره
ظلم پر خپل زړګي کوم، بدرنګه شومه

په خوله به زرځل توبه وکړم
پر تا مـيئن زړګی تـوبې نهقبـلـوينـه

پهٔ سترګو ړوند نهشي، راګوره
پهٔ تش کاتهٔ بهٔ دې ځوک سر نهٔ پرېکوينه

پلار يی د بر کلي ملک دی
لور يی زما به رنجو سترګی توروينه

پر تا به ښنګه وخت تيرېږي
ما ته د زړه له درده نهراځي خوبونه

په تلو دې داسي حال راپېښ که
لکه يتيم چي ګاوندي ته پاتيشينه

پـــه خوله ويلو حاجت نهشته
سترګي مي ولوله، ترې واخله ځوابونه

پلار ته مي وچ په نره راشه
ما ورته وښايه چي دا لور دې کومه

دنيا په هيڅا نه ورانيږي
که موږ جدا شو، نو په موږ به ورانهشينه

دادا مي مړ، مور مي ميره ده
ما د پيسو په خاطر بل ته ورکوينه

د پلار شمله مي خيال ته راغله
بېګا په يار پسي وتم، راستنه شومه

د ژوندانه مزه مي نهشته
بېوفايار په بېلتانه سپارلي يمه

د جوارګرو ورونو خور يم
بابا مي نهشته، ځوک مي نهٔ کوي پوښتنه

د کال خواري مي اوبو يووړه
بيا به روڼاندو ته ونهکړم نصيتونه

د زړګي کور مي پسي ورانشو
په يار ودان شول د لحد تور ديوالونه

د تشي خولي ميئن دي نهيم
په سخته ورځ به درنه ځان قربانومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د ناستې ځای دې رانه‌واخیست
د ناستی ځای په غرو رغو کې لټومه

د خپل ماما واده مې یاد دی
پر کجاوه باندې اوچته ناسته ومه

د ځوانۍ عمره مه تیرېږه
ما ته یوښکلي د یارۍ ویلې‌دینه

د لالي مال او دولت کم کړې
چې بیا نامه د بنې نه را یادوینه

د اشنا غېږ د ګلوباغ دی
خاونده زهٔ ترې بې‌نصیبه پاتې شومه

د اشنا مینه زلزله ده
زما یې وران کړل د زړګي نري برجونه

د مخ لیدو ته به رانه‌شي
ما ته معلوم دي د پښتو بد رواجونه

قدر مې ورځ په ورځ کمیږي
په تا پوهیږم، له یارۍ اخلي لاسونه

خال سره دوه خالونه نور کړه
ګبین ترې جوړ کړه، چې مچۍ ورله راځینه

خبرې ډیرې، سر یې یو دی
څوک چې د چا ارمان لري، نصیب دې شینه

ستا دراتلو زېری چې راغی
بلۍ ته پورته شوم سرتوره ګډیدمه

سرو، شنو او سپینو راته وران کړې
وطنه اوس به درته اوښکې تویومه

ستا په خبرو کې شفا ده
په مینه دوې خبرې وکړه، روغ به شمه

ښه ده چې زه درته ژوندۍ یم
ګنې نازونه به دې چا اخیستې‌وونه

ماښام همغه تورماښام دی
یوازې زه د زړه تنګون اخیستې‌یمه

ما د کابل له سیند نه ځار کړې
د کابلۍ د خولې کنګال په کې راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما ته د مینې صفت مه‌کړه
همدومره بس ده چې مې ولیدل غمونه

ما وربښلی یې جانانه
که له ما ډېره مینه بل څوک درکوینه

مینه چې نه‌کړې، نو دې څه‌کړم
مور خو مې نه‌یې چې دوعا ته دې ساتمه

ما ته به نور غمونه جوړ کړې
که دې په غونډه زنـــــه ووهل خالونه

لکه چې دم لونګ یې درکړل
چې په ماښام پرېږدې د وړکو مجلسونه

لیونی زړه مې پرې راتول دی
که تېپه نه‌وای، زه به ورک لیونی ومه

له ما نه هر وخت مرور وې
لالی پر خپلو بدو خاورې اړوینه

لیدلي یار د چا هېرېږي
کور دې یې وران شي، چې په ما یې هېروینه

تر خوبولي غږ دې ځارشم
له خوبه ډکې‌سترګې تا ته ناسته‌یمه

ته به ولاړ یې بل به یار کړم
د تا له قصده به یې تول نازونه وړمه

ته مسافر شوې رنګ دې تور شو
زه د بېلتون له لاســــــه وچه‌کلکه شــومــه

ته به ولاړ یې، بل به یار کم
ته به را ګورې، خوله به بل ته ورکومه

تللی جانان به بیا رانه‌شي
که وچې ونې زرغونې په اوښکو کړمه

تا په سفر ځواني زړه کړه
زه د هجران په وجه زېړه پاڼه شومه

تا د وطن ټپه راوکړه
زه په سفر کې لیونی سپیلنی شومه

زړه خو مې ستا خبرو وخوړ
لکه اوبه د کمر غاړه، غاړه خورینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما د زړه له تله خوښ يې
دا ګډېوډېکيسې څوک درته کوينه

زما په مينه شک ونهکړې
ما د يارۍ ګوتې پخې درکړېدينه

زما سندرې ورته وايه
که ليونی په کټ کې پروت وي، ښه به شينه

زړه مې پـه هيڅ نـه راتـولـيږي
مــا د بــايــللی يــار يــادونــه ژړويــنـه

زما ويشتلی وزر جوړ شو
اوس به د ځينو نه اوچت الوت کومه

زړه مې نري درزونه وکړل
لکه دېوال چې زلزلې چولیوينه

زړه مې خوږېږي، زړه دې خوږ شه
پــه نيـمـه لار کــې لــه چـا پــاتــېشــې ميـئـنه

زما باغچې، باغچې وطنه
ستا له باغونو د باروتو بوی راځينه

راشه د زړه علاج مې وکړه
نور د چيندرو پر کرښو مه وهه ټوپونه

رانجه دې ورک شي زر پاکيږي
جنۍ ته وايه دنکريزو خــال دې ږدينه

څه ليونی چارې دې وکړې
ټيکري کې پټوړم د غاښونو پرهرونه

ځنګه دې خواره کړمه خدايه
چې ګاونډی مې د خولګۍ تمهلرينه

ځان لېونی که ترماراشه
پهٔ لېونتوب بهٔ زما وکړي ديدنونه

ځان بې وفا راته ښکاره شو
خاورې ايرې پهٔ جدايۍ نهٔ شوم مينه

خبر دې نهشته نادرکه
له ما نه ورکه ياره څه درشويدينه

که څوک راتلل، سلام رالېږه
زه لا همدا تمه لرم، چې تا لرمه

کوچيانو هم رواج بدل کړ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوښان يې خرڅ کړل، اوس تيکټرې چلوينه

کابله لېږې اوښکې توئ کړه
لوی او واړه بچيان دې ورک له ملکه دينه

که لېونی مينه مې غواړې
شيرينه ياره ناز مې وړه، ناز به دې ورمه

وطنه کوم پرهر دې ياد کړم
يو بد امني، بل زلزلې او سيلابونه

وخت به راځي، حساب به وکړو
پر مخ څپيړې راکوه، ولاړه يمه

وطن مې خړو اوبو يوړو
لهٔ بې وسی نه ورته اوښکې تويومه

وير دې زما شو، ته د بل شوې
ته خو اباد شوې، زه دې تورې خاورې کړمه

يو د وطن حالات خراب دي
بل مې د مينې کيسې ګډېوډې دينه

يار مې په بنګو سترګې سرې کړې
مورې نارې کړې: زوی مې ستا له غمه مرينه

اوړی دې پاس کابل کې تېر کړ
په منې راغلې، سلامت غواړې خالونه

غم دې زما شو تهٔ د بل شوې
شيرينه ياره زه د چا په برخه شومه

چې بې‌مطلبه دې ښوک يار وي
خاورې د پېښو يې ښکلوه، بزرګ به وينه

چې راپهٔ زړه شې، حال مې نور شي
غم را چاپېر شي لهٔ هرځه واخلم لاسونه

چې راشه درشه په‌کې نهٔ وي
رب دې په هسې ياری اور ولګوينه

جوړ کړی ژوند درپسې اور شه
اوس مې نو څه يې، چې دوعا درته کومه

جانان له ما نه مرور دی
زه مرور له تمامې جهانه يمه

نصيبه څه درسره وکړم
پريار مې کوټې شوې د خاورو امبارونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

## شونډي دې بوڅي، بوڅي کېږي
## زما پر سر به چا پېغور درکــــــــړی وينــه

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولــئ